نړیوال بانک
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

## خبري څرګندونه

## د ماليې وزارت

# د یوې خپلواکې ارزونې پر بنسټ د افغانستان بیا رغونی صندوق د پرمختیایي پایلو د رښتوني کیدو په موخه د دولت سره څواکمن مشارکت منځ ته راوړی دی

**کابل، د سپتمبر ۱۶ مه، ۲۰۰۸ کال**: نن د مرستندویه سرچینو او افغانستان دولت د یوې غونډه په ترځ کې د افغانستان بیارغونې صندوق د خپلواکې ارزونې د موندنو (**د افغانستان بیارغونې صندوق د خپلواکې ارزونې راپور**) په هکله بحث وکړ. د دې ارزونې موندې څرګندوي چې د افغانستان بیا رغونې صندوق د افغانستان دولت څخه په ملاتړ کې مهم رول لوبولای دی ترڅو د ټول هېواد د وګړو لپاره پرمختیا د ډاډ وړ شي او همدا راز د مالي چارو اداره پیاوړې شي. په دې راپور کې چې د سکن ټیم په نامه د ناروې هېواد د خپلواکو څېړنو د یوې مؤسسې له خوا برابر شوی دی، د افغانستان بیا رغونې صندوق راتلونکی ستراتیژیك لر لید وړاندې شوی دی چې اوس مرستندویه سرچینو موافقه کړې ده ترڅو دا صندوق تر ۲۰۲۰ کال پورې وغځوي.

*«د افغانستان بیا رغونې صندوق د افغانستان د دولت سره د هغه مرستو په هکله چې د دولتي مؤسسو د بیا جوړونې لپاره شوې دي، یو مهم رول لوبولی دی.»* دا مطلب د **افغانستان د ماليې وزیر جلالتمآب انوار الحق احدي** څرګند کړ او زیاته یې کړه چې *«د افغانستان بیا رغونې صندوق نه یوازې د افغانانو د اساسي اړتیاوو د پوره کولو څخه ملاتړ کوي بلکه په ټول هېواد کې د دولت توان پیاوړی کوي.»*

ددې راپور پر بنسټ، د افغانستان بیا رغونې صندوق ملي مهم پروګرامونه لکه د ملي پیوستون پروګرام، د کلیو د برلاسۍ پروګرام، او د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګې اچونې د مرکز څخه ملاتړ کړی دی چې پایلې او نتیجې یې د ستاینې وړ دي. په دې راپور کې استدلال شوی دی چې دا صندوق باید د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ د پلی کیدو لپاره د مالي مرستو د اساسي سرچینې په توګه پراختیا ومومي. همدارنګه د نوموړي راپور لیکونکي مرستندویه سرچینې هڅوي ترڅو د افغانستان بیا رغونې صندوق څخه د تخنیکي مرستو د انسجام، اغېزمنتیا او ګټورتوب لپاره کار واخلي. خو ددې صندوق د عمومي اغېزمنتیا د ښه توب لپاره پکاره ده چې د مرستندویه سرچینو او دولت ترمنځ یو لا څواکمن مشارکت منځ ته راشي ترڅو د پالیسیو د پایلو په هکله څارنې ته زیاته پاملرنه وشي.

*«د افغانستان بیارغونې صندوق په دې هېواد کې د مرستو د یوه مهم جوړښت په څېر تبارز کړی دی.»* دا مطلب **مریم شېرمن** چې په **افغانستان کې د نړیوال بانک د ځانګې مشره** ده، څرګند کړ او زیاته یې کړه چې *«د افغانستان بیارغونې صندوق د ټولو شریکانو موخه داده ترڅو افغانان د خپلې راتلونکې کنټرول په لاس کې واخلي او د ملي بیاجوړونې د لمړیتوبونو په ټاکنه کې د مشرتابه رول ولري.»*

هیله مند یو چې مرستندویه سرچینې به د دې صندوق تمویل ته په سخاوت سره ادامه ورکړي. دوی په ۱۳۸۷ لمریز هجري کال کې د ۶۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو ژمنه وکړه چې په دې توګه په تېرو شپږو کلونو کې د دوی د ژمنو ټوله کچه ۳ میلیارده امریکایي ډالرو څخه اوړي. ددې صندوق تر ټولو لویې مرستندویه سرچینې دادي: لویه بریتانیه، د امریکې متحده ایالتونه، هالنډ، آلمان، اروپایي کمسیون، ناروې او کاناډا. د ایران، هندوستان، او عربي دولتونه هم ددې صندوق غړیتوب لري.

د نورو معلوماتو لپاره کولای شی په لاندې توګه اړیکه ونیسی:


عزیز شمس، د رسنیو د ځانګې مشر،
د ماليې وزارت
۰۷۹۹۳۲۶۳۸۳، mof.media@gmail.com

په کابل کې: عبدالرووف ضیأ
د بهرنیو چارو مسؤول، نړیوال بانک
۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰، azia@worldbank.org

په واشنګټن کې: اریك نورا
(۲۰۲) ۴۵۸۴۷۳۵
enora@worldbank.org